مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک ۲۰۲۰/۱۲/۳۱

# صدراعظم

## سید نور محمد شاه پښتینی کندهاری

### دیارلسمه او وروستی برخه

**ما څه موده پخوا د صدراعظم سید نورمحمد شاه پښتيني کندهاري په باب ځو پرله پسي ليکني خپرې کړې. ځينو دوستانو راڅخه وغوښتل چي که دا موضوع يو څه پسي پراخه سي، ښايي ګټوره به تمامه سي.**

**ما د دوی غوښتنه ومنله او د مدارکو په محسوسه نيستي کي مي دا څېړنه د يوه کتاب په بڼه ترتيب کړه. که محترم لوستونکي زما د دې حاضري ليکني او په دې باب د نورو څېړو سوو ليکنو ترمنځ مکررات ووينې، د مهرباني له مخې دې د احسن تکرار په سترګه ورته وګوري او ما دې وبخښي.**

م. هوتک

**سید محمد اکبر شاه اغا (رح):**

د "کندهار زيارتونه "کتاب په ۱۳۲ مخ کي کښلي دي :"سیدمحمد اکبر شاه اغا د سید شمس الدين اغا زوی، د سيد اختر اغا لمسی، د سيد عبدالعزيز اغا کړوسی او د مشهور سيد برت نيکه کودی دئ. نوموړی د قرآن شريف حافظ او په قادريه طريقه کي د پلار له خوا مأذون وو، سربېره پر دې ئې په طبي علومو کي خورا لوی لاس درلود او د خپل وخت له ډېرو مشهورو طبيبانو څخه ګڼل کېده. په طب کي ئې د دهراوت اولسوالی حاجي نظام الدين اخندزاده طبيب له شاګردانو څخه وو".
قبر ئې د ارغنداو د لنګر کلي (۱۴۵) په مشهوره هديره کي معلوم دئ او شنخته نه لري.

**سید محمد داود شاه اغا(رح):**

د سيد محمد اکبر شاه اغا زوی دئ. په ( لوی اغا) مشهور وو. تولد ئې د ۱۲۹۶هـ ق کال په شاوخوا کي پېښ دئ. ژوند ئې په ارغنداو کي پخپل پلرني کلي تېر کړی وو او په ۱۳۶۶ش کال چي روسانو پر ارغنداو يرغل وکړ، سيد محمد داود اغا ئې پخپل کلي کي شهيد کړ.

نوموړی په قادريه طريقه کي له خپل پلار څخه د خلافت چوخه اغوستي وه. پر شريعت او طريقت سربېره ئې له پلار څخه د طبابت چاري هم په ميراث وړي وي او په طب کي ئې شاګردان روزلي ول. دده قبر هم د لنګر کلي په مشهوره هديره کي معلوم دئ.

د سيد داود اغا زوی سيد محمد هاشم اغا نوميږي او تر ۱۳۹۰هـ ش کال پوري لا ژوندی وو. اوس ئې حال نه لرم.

**سید يعقوب نيکه (رح) او سید عمر نيکه (رح):**

سيد يعقوب د پښين له ساداتو څخه دئ. کندهار ته تر راتګ وروسته ئې په ذاکر (۱۴۶) کلي کي استوګنه غوره کړه. دلته ئې د ارشاد و تلقين حلقه جوړه کړه او د " مزارات" د ناظم له خولي چي وايي:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

**په سوو ئي خلفا وه**
**په زرو ئي احِبّا وه**
**....**
**د سید چي قبرستان دئ**
**په ذاکر کښي نمایان دئ**

**په شامی کښي پروت دئ دِله**
**ما لیدلی دئ پخپله**

**ټول صورت ئي سلامت دئ**
**د خالق پر ده رحمت دئ**

د سید یعقوب نیکه وفات په ۱۲۰۰هـ ق کي پیښ دئ. د وفات ماده ئي په مزارات کي داسي راغلي ده:

**غَین و راء (۱۴۷) چي د هجرت وو**
**سید یعقوب په لوی رحمت وو**

سید عمر (رح) د سید یعقوب نیکه زوی دئ . د پلار تر وفات وروسته ئي پر مسند کښېنوست.په مزارات کي دده په باب راغلي دي:

**په دی ملک کښي لکه نمر دئ**
**هم ئي زوی سید عمر دئ**

**دومري لوی ولي دئ جانه**
**چي ئي وصف دئ بېشانه**

**کرامات ئي دومري ډېر دي**
**چي د شمار تر حساب تېر دي**

د ده زیارت هم د ذاکر د ساداتو په هدیره کي دئ.

**سید عطو جان اغا (رح):**

سید عطوجان اغا د سید یعقوب (رح) لمسی دئ. زیارت ئي د کندهار ښار جنوب ته د "بلدي" (۱۴۸) په کلي دئ.

سید محسن اغا د ده په باب کښلي دي:

**په کُملو کښي کامل وو**
**هم عرفان پر ده شامل وو**

**په ظاهر باطن طاهر وو**
**کرامات ئي ډېر باهر وو**
**...........**
**په لکو ئي مریدان وه**
**په زرو ئي مخلصان وه**

**بلدی دده مسکن وو**
**و عالم ته مبرهن وو**

**له جهانه چي منقول وو**
**د خالق په در قبول وو**

**شه مدفون په بلدي کښي**
**سیال ئي نه وو په فاني کښي (۱۴۹)**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

سید عطوجان اغا د ۱۲۰۰هـ ق په شاخوا کي وفات سوی دئ.

### سید شعیب اغا (رح):

سید شعیب اغا په "مجذوب اغا" سره مشهور وو. دی د سید عبدالحمید اغازوی، د سید ابدال اغا لمسی او د مشهور سید اختر اغا کړوسی وو. د سید عبدالحمید اغا پنځه زامن پاته سول چي سید شعیب اغا ئي مشر زوی وو. نور زامن ئي سید ابراهیم اغا، سید عبدالرحیم اغا، سید سید نظیم اغا، سید نعیم اغا ول. د کابل د قلعهٔ قاضي شاه آقا د سید مجذوب اغا لمسی وو. (۱۵۰)

د سید مجذوب اغا یادونه د سید عبدالحمید اغا د اولادو په ترڅ کي داسي ویل سوی ده:

**اول زوی دده شعیب وو**
**چي مجذوبه تر صهیب وو**

**په ظاهر ملامتي وو**
**په باطن کي لوی ولي وو**

**ډک د علم د عرفان وو**
**نازولی د منان وو**

**کرامات ئي ټول عیان دي**
**په ښه طرز په ښه بیان دي (۱۵۱)**

سید مجذوب اغا په ۱۲۶۰هـ ق کي وفات سوی دئ. زیارت ئي د کندهار ښار د شاه ولي ( ویالي) پر غاړه د سید محسن اغا په هدیره کي دئ. قبر ئي د سراج الملة والدین امیر حبیب الله خان په امر په ۱۳۲۵هـ ق کال د مرمرو په ډبرو جوړ سوی دئ. (۱۵۲)

### سید میر جهان اغا (رح):

په میراجان اغا سره مشهور وو. پلار ئي سید شعیب اغا ( مجذوب اغا) وو چي بیان ئي دمخه راغلی دئ. د پلار تر وفات وروسته له کندهاره کابل ته ولاړ او څه موده وروسته ترکستان ته ولاړ. هوري په ۱۲۸۵ هـ ق کال په شهادت ورسېد. قبر ئي د مزار شریف په روضه کي دئ. د قلعهٔ قاضي سید عبدالعظیم شاه اغا دده زوی دئ.

په مزارات کي د ده په باب لولو:

**محضه نوم ئي میر جهان وو**
**مُلقّب په میراجان وو**
**هم جامع وو د انوارو**
**او مهبط وو د اسرارو**
**واردات ئي لاریبي وه**
**فیوضات ئي سرمدي وه**

**...............**

**اصلي ځای ئي کندهار وو**
**هم سید جید اظهار وو**
**په کابل کښي سکونت کړ**
**په مثال ئي د جنت کړ**
**بیا رهي شه ترکستان ته**
**د ولیانو قبرستان ته**

**............**

**هم شهید تر دنیا تېر شه**
**کل غلمان باندي چاپېر شه**
**په سنه د غین و راء وه**
**فاء و هاء باندي بالا وه (۱۵۳)**

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

انتقال ئې له جهان کړ
ټول مخلوق ئې پرېشان کړ
هوري دفن دئ دلبره
رب دي تا کړي بهره وره (۱۵۴)

### د کابل په قلعهٔ قاضي کې پښيني سادات:

د کابل د زاړه ښار په جنوب لويديځ کې يوه سمسوره پراخه سيمه وه چي " چهار دِه" ئې بلله . په چهاردِه کې ( دِهمزنگ، دِه بوري، دِه دانا، دِهمرادخان ) شامل وه. دا ټولي سيمي اوس د کابل ښاروالۍ په ناحيو کې راځي.د چهاردِه نوم د سدوزي تيمورشاه په وخت کې دغي سيمي ته ورکول سوی وو. قلعهٔ قاضي د چاردِه لويديځ ته واقع ده .له قاضي څخه مراد قاضي فيض الله دولتشاهي دئ چي د سدوزي تيمورشاه استاد وو. (۱۵۵) قاضي فيض الله دولتشاهي د فيض الدين خان زوی او د حاجي سليمان له اولادې څخه وو او د هغې شجرې له مخي چي مرحوم ابراهيم خليل په آريانا مجله ، ۳۳ کال، شماره ۱ ص ۱۱۲ کې خپره کړې ده ، دغه حاجي سليمان په لسم پښت کې د ظهيرالدين محمد بابر ته رسيږي. (۱۵۶) په پخواني کابل کې " باغ قاضي (۱۵۷)، گذر قاضي، مسجد قاضي، قلعهٔ قاضي" ټول دده نامه ته منسوب دي. دده وررور ملا محمد ادريس هم د سدوزي دورې له مشاهيرو څخه وو او د تاليفاتو څښتن وو.په تاريخ احمد شاهي کې ئې نوم ياد سوی دئ.

په قلعهٔ قاضي کي د پښين د ساداتو يوه درنه کورنۍ له قديمه اوسېدلي ده چي دا کورنۍ د کندهار ښار له ساداتو سره خپلوی لري. ددغو ساداتو ډېر مشهور روحاني جناب شاه عبدالعظيم پښيني وو چي د قلعهٔ قاضي په شاه آقا مشهور وو. شاه عبدالعظيم د سيد مير جهان اغا زوی ،د سيد شعيب اغا ( مجذوب اغا) لمسی، د سيد عبدالحميد اغا کړوسی، د سيد ابدال اغا کوسی او د مشهور سيد اختر اغا کودی دئ . سيد اختر اغا د کندهار د ارغنداو په کلي اوسېد او د پښنی له اسماعيل زيو ساداتو څخه وو. د سيد اختر اغا پلار سيد عبدالعزيز اغا او نيکه ئې سيد برت نيکه وو. سيد برت نيکه په قلعهٔ عبدالله (بلوچستان) کې پروت دئ. د کندهار سيد محسن اغا د شاه عبدالعظيم د اکا زوی وو.

اعليحضرت امير امان الله خان د شهزادگۍ له وخته جناب سيد عبدالعظيم شاه پښيني ته ډېر اخلاص او عقيدت درلود او هروخت به ئې خدمت ته ورتلی. کله چي دغه بزرگوار سيد په ۱۲۹۶ ش = ۱۳۳۵هـ ق کال د ربيع الاول پر ۲۴ مه وفات سو، د جنازې ټول لگښتونه او خيراتونه ئې له خپلي شخصي سرمايي څخه تاديه کړل. امان خان تر دي اندازې اخلاص ورته درلود چي ددغه مبارک سيد د غسل پر وخت ئې دده مرحوم سر په لاسو کې نيولی وو او په رينگتيا ئې ورته ژړل. امان الله خان د پاچهي په سر کې ددغه زيارت ځنگ ته يو دوه پوړيز مسجد ودان کړ او له عمومي واټ څخه ئې زيارت ته يو پوخ سړک وکيښ.
د سيد عبدالعظيم شاه د مرقد پر شنخته داسي ليکل سوي دي:

"مزار فيض آثار قدوة السادات العظام و عمدة العرفاء الکرام، غوص بحر طريقت و آشنای رموز حقيقت سيد عبدالعظيم شاه مشهور به شاه آقا ابن غفران مآب سيد مير آقا جان ولد مرحوم سيد محمد شعيب شاه که از اجلهٔ سادات معروق پشين قندهار بوده از دت مديدی در قلعهٔ قاضی اقامت داشتند و بتاريخ ۲۴ ربيع الاول سنه ۱۳۳۵هـ ق داعی اجل را لبيک و از دنيای فانی بسرای جاودانی بجوار رحمت ايزدی رحلت فرمودند. اين مزار از طرف اعليحضرت امان الله خان غازی پادشاه ديانت اکتناه افغانستان از وجه عين المال مخصوص شاهانه تعمير يافت." (۱۵۸)

### د ديارلسمي برخي لمنليکونه:

۱۴۵ـ لنگر کلی د بابا ولي صاحب تر کوتل لاندي پروت دئ. د ارغنداو اولسوالي له همدغه کلي څخه پر شمال ختيځ او جنوب لويديځ لورو سره غځېدلي ده.
۱۴۶ـ ذاکر د کندهار ښار جنوب ته يو کلی دئ. دلته د هوتکو له عصر څخه د ارشاد دوې کورنۍ سته چي يوه د ميا عبدالحميد هوتک او بله د حاجي ممريز پوپلزي (حاجي نيکه) کورنۍ ده.
۱۴۷ـ غ (۱۰۰۰) + ر(۲۰۰) = ۱۲۰۰ هـ ق
۱۴۸ـ بلدی کلی دفتري ميرزايانو د " بلده" په شکل کښلی دئ او په رسمي دفترو کې هم په همدې ډول ثبت دئ چي ناسمه ليکنه ده.
۱۴۹ـ مزارات ، ۱۰۹مخ
۱۵۰ـ د قلعهٔ قاضي د شاه عبدالعظيم اغا ( شاه آقا) پر شنخته ليکل سوي دي :


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

" غواص بحر طریقت و آشنای رموز حقیقت سید عبدالعظیم مشهور به شاه آقا ابن غفران مآب سید میراجان ولد مرحوم سید محمد شعیب شاه قوم شکرزائی که از اجلهٔ سادات معروف قوم فوشنج قندهار بوده ...." ( هنر خط ... صـ ۳۸)
۱۵۱ـ مزارات ۱۲۴مخ
۱۵۲ـ په دغه کال امیر حبیب الله خان د افغانستان ولایاتو ته د سفر په لړ کي کندهار ته راغلی وو.
۱۵۳ـ غ (۱۰۰۰) + ر (۲۰۰) + (ف (۸۰) + هـ (۵) = ۱۲۸۵ هـ ق
۱۵۴ـ مزارات ـ ۱۲۷، ۱۲۹ مخونه
۱۵۵ـ وگ : د کندهار زیارتونه ـ ۷۳مخ ، حاشیه
۱۵۶ـ محمود الحسینی ، تاریخ احمد شاهي ، تعلیقات و حواشي، صـ ۵۷۳، چاپ ۱۳۸۶ش
۱۵۷ـ باغ قاضي د خواجه صفا غره او چنداول ترمنځ واقع وو چي وايي ۱۵ جریبه ساحه ئي نیولې وه. دغه باغ په دې وروسیو کلونو کي د اغاخان کلتوري مرکز او کابل ښاروالی په ګډه همکاري د یوه پارک په شکل د بیا جوړېدو په حال کي دئ. ( م.هـ)
۱۵۸ـ وکیلي، عزیزالدین ، سلطنت امان الله شاه و استقلال مجدد افغانستان ، بخش اول ، ص ص ۳۳۱، ۳۳۲، چاپ ۱۳۶۴ش کابل

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ